
لومړۍ کچه

education above all
التعليم فوق الجميع

storyweaver
PRATHAM BOOKS

# د اوبو مار سره يو يادګاري سفر




**ليکوال:** مانګکونيفيټ سایاسين

**انځورګر:** مانګکونيفيټ سایاسين


**ژباړن:** ګوري شري نيدهي


THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire


Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



یوه ورځ، خان د کب نیونې پر مهال ویده شو. هغه په تمه و چې کبان وریجې، چې هغه د ښکار لپاره د طُعمې (غولولو) په توګه کاروي، وخوري.





ناخاپه د کب نيونې لرګی په خوځېدو شو! هغه فوراً راويښ شو.

دا به څه شی وي؟




یو حیوان د کب نیونې لرګي څخه د ځآن د خلاصولو لپاره کوښښ کاوه!



حیوان سخت زور وواهه او دومره په قوت سره یې لرګی کش کړ چې خان په اوبو کې ولوېدو.



حیوان هغه د بحر ژورو ته کش کړ. خان پوه شو چې دا حیوان اصلاً یو ډېر غټ د اوبو مار و!



خان په بحر کې اوسېدونکي هر ډول حیوانات ولیدل.




خان او د اوبو مار یوځای په بحر کې لامبو وهله.



د اوبو مار خان يو ستر ګټ ته بوتللو، او خان سره په خبرو شو.

”زما هګۍ د دې ستر ګټ لاندې نښتې ده!“، هغې وويل.




خان زښت ډېر زور وکړو، خو هغه ګټ دومره دروند و چې هیڅ له ځایه و نه خوځېد!

د خان ذهن ته یو فکر راغلو. هغه د وریجو کڅوره چې پر اوږه یې وه، پرانیستله.




خواوشا بحري حيوانات د خان لوري ته په لامبو وهلو راغلل، او غوښتل يې چې وريجې وخوري. خان له ټولو هغه حيواناتو څخه چې وريژې خوړولو ته لېواله وو، غوښتنه وکړه چې له ګټ څخه د هګۍ په خلاصولو کې له ده سره مرسته وکړي.




ټولو بحري حيواناتو مرسته کولو لپاره غاړه کېښودله. هغوی د ګټ پر لور روان شول.



کله چې هغوی ګټ ته ورسېدل، هغوی په خپل ټول قوت سره سخت زورونه ووهل.




تر سخت ډېر زيار وروسته، ګټ بالاخره له ځآيه وخوځېد. خان د اوبو مار قيمتي هګۍ وليدله!




خان خپل لاس وغځولو او په احتیاط سره يې هګۍ رااوويستله.



هګۍ په رپېدو او خوځېدو شوه! دا څه پېښېدونکي وو؟



له هګۍ څخه یو کوچنی د اوبو مار راووت. دا خوندي و!
د اوبو مار د خوشحالۍ نه په نڅا شو. خان او نور بحري حیوانات هم له خوښۍ څخه په ټوپونو شول.



دا چې خان د خوشحالۍ د لمانځلو له امله ستړی شوی و، خان بالاخره په ژور خوب ویده شو. د اوبو مار په خوندي توګه هغه په خپله ملا بوتللو.



خان د سیند په غاړه بیاځلي راویښ شو. د هغه سترګې په خپل تش سطل ولګېدې چې له کبانو ډک و. آیا دا ټول یو خوب و؟

## لاربښودونکې پوښتنې

1. د کیسې مرکزي کردارونه څوک دي؟
2. د اوبو مار د کومې ستونزې په برخه کې مرسته غوښته؟
3. آیا تاسې چا سره د یوې ستونزې په هوارولو کې مرسته کړې ده؟ تاسې څه وکړل؟
4. د اوبو مار سره د مرسته کولو وروسته خان څه احساس درلوده؟ آیا تاسې هم په خپل ژوند کې دا ډول احساس کړی دی؟ هغه وخت تشریح کړئ کله چې تاسې دا ډول احساس درلوده.
5. آیا ستاسې په اند دا ټوله کیسه صرف یو خوب و؟ ولې یا ولې نه؟